دکتور سید حسام مل

# اغزن تار دی تړلوه

ځما نوم افغانستان دی لویه مېنه دافغان یم
سکنی مور داحمد دروښان اومیرویس خان یم

هزاره ، ازبک ، تاجک ، ترکمنان می روزلی
پښتانه ، نورستانی ، پشییان ، می نازولی
بیکس نه یمه غلیمه په ځا منو خپل گران یم
ځما نوم افغانستان دی لویه مینه دافغان یم

دځامنو له نفاقه داچی سوځم سره اورکی
غلیم ستا دی لاس ککړ په نفاق اوشرشورکی
ځانځانی به شی زر ورک پخپل هڅو کی روان یم
ځما نوم افغانستان دی لویه مینه دا فغان یم

ډیرو ډیرو یر غلګرو دلته سر خپل خوړلی
که انگریز وه ، که عربو، سره لښکرهم سر بایللی
پنجابی حرامی زویه کم عقلی ته دی حیران یم
ځما نوم افغانستان دی لویه مینه دا فغان یم

ستا هغه تیر چلونه دلته اوس نه چلیږی
په تسبیح اوسپین پګړی دی خلک اوس نه غولیږی
پوهیدلی می ځامن دی زه له تولو نه قربان یم
ځما نوم افغانستان دی لویه مینه دافغان یم

ا فغان نه کوی تلوار اخلی غچ ډیر په قراره
غلیمان تل خوړلی دافغان کلک گذا ره
تاریخ وگوره یوځل زه وطن دخوشحال خان یم
ځما نوم افغانستان دی لویه مینه دا فغان یم

زه دعلم گهواره یم  عالمان می بچیان دی
بیرونی ، علی سینا ، مبارز پیر روښان دی
سر ښیندونکی می روزلی مبارز مور دافغان یم
ځما نوم ا فغا نستان دی لویه مینه دا فغان یم

اغزن تار دی ټولوه زر ځما له پاک لم نه
دلته ځای دتا نه دی ملوث اوکرغیړنه
بیلوی ا فغان څوک نه شی ټول نړی ته گویان یم
ځما نوم ا فغانستان دی لویه مینه دافغان یم

داپریل اوویشتم کال دوه زره اوه

www.ayenda.org